اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

دا مضمون ”نیکی کی دعوت“ صفحه 194 تا 216 نه اخستے شوے دے

# د يو ځلمي توبه

دُعائے عطّار: يا ربَّ المُصطفٰے: چې څوک هُم دا رِساله ”د يو ځلمي توبه“ اولولی يا ئې واورِي، هغه ستا او ستا د خوږ خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبردار جوړ کړې او بے حسابه بخښنه ئې نصيب کړې. اٰمين بِجاهِ خاتَمِ النَّبِيّين صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د الله پاک د آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: اے خلقو! بيشکه په ورځ د قيامت به د هغي د ويرو او حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے کس هغه وي چا چې په تاسو کښې په ما باندې دُنيا کښې کثرت سره دُرُود شريف وئيلي وي. (فردوس الاخبار، ج۵، ص۲۷۷حديث۸۱۷۵)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د يو ځلمي توبه

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 132 صفحو کتاب ”توبہ کی رِوایات و حِکایات“ صفحه 75 تا 77 کښې دي: حضرت سَيِّدُنا صالِح مُرّي رحمۃُ اللہ تعالٰی علیه په اِجتِماع کښې د خپل بيان په دوران کښې خپلې مخې ته ناست يو ځلمي ته اُوفرمائيل:”يو آيت اُولوله.“ نو هغه د سُوْرَةُ الْمُؤمِن اتلَّسم آيت تِلاوت کړو:

وَ اَنۡذِرۡهُمۡ یَوۡمَ الۡاٰزِفَةِ اِذِ الۡقُلُوۡبُ لَدَی الۡحَنَاجِرِ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او هغوئي اُويَروه د هغه نِزدې راتلونکې آفت د ورځې نه چې کله به زړونه مرو ته

كٰظِمِيْنَ۬ ؕ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّ لَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ ﴿ؕ۱۸﴾

راپورته شي د غم نه ډك. او د ظالـمانو نه څوك دوست شته او نه څوك سفارش كوونكے، چې د هغه خبره اُومنلے شي.

دا آيتِ مُباركه ئې چې واوريدو نو هغوئي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ اُوفرمائيل: څوك د ظالِم دوست يا مددګار څنګه كيدے شي؟ څكه چې هغه خو به الله تعالیٰ نيولے وي. بيشكه تاسو به سركشي كوونكي ګنهګاران اُووينئ چې هغوئي به په زنځيرونو كښې كلك تړلي شوي د جَهَنّم طرف ته بوتلل شي او هغوئي به بربنډ وي، د هغوئي بدن به سُست، مخونه تور او سترګې به ئې د وېرې نه شنې شوي وي. هغوئي به چغې وهي: مونږ هلاك شو! مونږ برباد شو! مونږ په زنځيرونو كښې ولې تړلي شوي يو؟ مونږه چرته بوځي؟ او دا زمونږ سره څه كيږي؟ فرښتے به هغوئي د اور په كوړو وهي او زغلوي، كله به هغوئي پړمخ غورزيږي او كله به ئې په زمكه په راښكلو بوځي چې كله په ژړا ژړا د هغوئي اوښكې ختمې شي نو د وِينو اوښكې به ئې بهيدل شروع شي، د هغوئي زړونه به اوړقيږي او حيران او پريشانه به وي كه چا هغوئي يو ځل وليدل نو بيا به هغوئي ته نه شي كتلے او نه به خپل زړه كلك كړے شي بلكه دا ويرروونكے منظر كه چا وليدو نو د هغه په بدن به لړزان خور شي.

دا ئې چې اُوفرمائيل نو حضرت سَيِّدُنا صالِح مُرّي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ په ژړا شو د افسوس يو اسويلے ئې وكړو او اوئې فرمائيل: ''افسوس څنګه ويرروونكے منظر به وي.'' دا ئې چې اووئيل نو بيا په ژړا شو. د هغوئي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ په ژړا حاضِر خلق هم په ژړا شو. په دې دوران كښې يو ځلمے ودريدو: او وئې وئيل: ''يا سيّدي! آيا دا ټول منظر به د قيامت په ورځ وي؟'' هغوئي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ جواب وركړو: ''آو، خو دا منظر به دومره اُوګږد نه وي څكه چې كله هغوئي جهنّم ته غوزار كړے شي نو د هغوئي آوازونه راتلل به بند شي.'' دا ئې چې واوريدل نو هغه ځلمي يوه چغه اووهله او وئيل ئې:''افسوس! ما خپل ژوند په غفلت كښې تير كړو، افسوس! ما په بے عملئ كښې وخت برباد كړو، افسوس! ما د الله تعالیٰ په اِطاعَت او فرمانبردارئ كښې سستي كړي ده، آه! ما خپل ژوند بيكاره ضائِع كړو.'' دا ئې اووئيل او په ژړا شو. لږ ساعت پس هغه د ربِّ كائِنات جَلَّ جَلَالُہٗ په بارګاه كښې داسې دُعا وكړه:''اے زما پروردګاره! زه ګنهګار د توبې د پاره ستا په دربار كښې حاضِر يم، زما ستا نه سِوا د بل چا سره هيڅ غرض نشته، د ګناهونو

معافي راته وکړې او ما قبول کړې، زما سره په ټولو حاضرو خلقو خپل فضل او کرم وکړې او مونږ ته د عطاء او بخښښ خيرات راکړې، يَآ اَرحَمَ الرَّاحِمِيْن! (يعني اے د ټولو نه زيات رحم کوونکيه) ما د ګناهونو پيټے ستا په وړاندې کيښودو او په رښتيني زړه ستا په بارګاه کښې حاضِر يم. که تا زه قبول نه کړم نو يقيناً زه به هلاك شم.“ دا ئې چې اووئيل نو هغه ځلمي يوه سلګۍ اووهله او غوزار شو، بيا د بيمارۍ په بستره پروت وو او يو څو ورځې پس وفات شو. د هغه په جنازه کښې بے شميره خلق شريك شو، په ژړا ژړا د هغه د پاره دُعاګانې وکړے شوې. حضرت سَيِّدُنا صالِح مُرّي رحمۃُ اللہ تعالی علیہ به اکثر په خپل بيان کښې د هغه ذِکر کولو. يوه ورځ چا په خوب کښې هغه ځلمے وليدو نو تپوس ئې ترينه وکړو: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ يعني اللهتعالی ستا سره څه معامِله اُوفرمائيله؟ نو هغه جواب ورکړو چې:”ما ته د حضرت سَيِّدُنا صالِح مُرّي رحمۃُ اللہ تعالی علیہ د اجتماع نه برکتونه نصيب شو او زه جنّت ته داخِل کړے شوم.“ (کِتابُ التَّوّابِين ص250 252)

**د الله تعالی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږ بے حِسابه بخښنه وشي.**

**اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صلَّی اللہ تعالی علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## په خوب کښې په بارګاهِ رِسالت کښې د تِلاوت سَعادت

**خوږو خوږو اسلامي ورڼړو!** تاسو وليده! د باعمله مُبلِّغينو بيان د اثر نه ډکه ډك وي، د خوفِ خُدا لرونکي مُبَلِّغ بيان کله کله د ګنهګار په زړه داسې اثر اوکړي چې د هغه دُنيا او آخِرت سنائِسته شي. سَيِّدُنا **صالِح مُرّي** رحمۃُ اللہ تعالی علیہ ډير زبردست قاري هم وو، د هغوئي رحمۃُ اللہ تعالی علیہ په قِراءَت کښې ډير درد وو، هغوئي رحمۃُ اللہ تعالی علیہ فرمائي: يو ځل ما په خوب کښې د **جنابِ رِسالت مآب** صلَّی اللہ تعالی علیہ واٰلہٖ وسلَّم په مخکښې د قُرآنِ کريم د تِلاوت کولو سعادت حاصِل کړو، **تاجدارِ رِسالت** صلَّی اللہ تعالی علیہ واٰلہٖ وسلَّم اُوفرمائيل: اے صالِح! دا خو قِراءَت اوشو ژړا کومه ده؟ (احياءُ العُلوم ج 1 ص368) **د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږ بے حِسابه بخښنه اوشي.**

## تِلاوت کښې ژړل د ثواب کار دے

**خوږو خوږو اسلامي ورڼړو!** د قرآنِ کريم په تِلاوت کولو کښې ژړل مُستحب دي. **فرمانِ مُصطفٰی** صلَّی اللہ تعالی علیہ واٰلہٖ وسلَّم دے: د قرآنِ پاك په تِلاوت کولو کښې ژاړئ او که نه شئ ژړلے نو د ژړا په شان شکل جوړوئ. (سُنَنِ ابنِ ماجه ج2 ص129 حديث1337)

عطا کر مجھے ایسی رقّت خدایا      کروں روتے روتے تلاوت خدایا

راکړې ما ته داسې رِقَّت[1] خُدايا چې کووم په ژړا ژړا تِلاوت خُدايا

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الْاَمِین صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د مرګ نه يو څو ورځې مخکښې اِنفِرادي کوشش

**خوږو خوږو اسلامي ورڼو!** د تلاوت کولو يا اوريدلو په وخت کښې زړه نرے نرے کيدل، د سترګو نه اوښکې جاري کيدل د لوئې سعادت خبره ده خو د شيطان د وار نه خبردار اوسئ! ژړا يو داسې عمل دے چې په دې کښې د رِياکارئ خطره ډيره زياته وي. لِهٰذا په دُعا وغيره کښې خاص طور د نورو په مخکښې په ژړا کښې د رِيا نه بچ کيدل ضروري دي ځکه چې رياکار د اور د عذاب حقدار وي. په تِلاوت او نعت کښې د اخلاص سره د ژړَلو او ژړَوَلو شوق زياتولو د پاره د تبليغِ قرآن و سُنّت عالمګير غير سياسي تَحريك **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تَعلُّق مضبوط ساتئ، د خپل ايمان د حِفاظت د پاره فِکرمند اوسئ، د لـمونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنّتو عمل کوئ، د **مَدَني اِنعاماتو** مطابِق ژوند تيروئ او په دې باندې د اِستِقامت موندلو د پاره هره ورځ د **"فِکرِ مدينه"** په ذريعه د نيک اعمالو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په اولنۍ تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته جمع کوئ او د خپل دې مَدَني مقصد حاصلولو د پاره چې **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** پابندئ سره هره مياشت کم نه کم د درې ورځو د سُنّتو د تربيّت مَدَني قافِله کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډک سفر کوئ. راځئ چې! ستاسو د ترغيب او تَحريص [يعني د نيکو د حِرص راپيدا کولو] د پاره يو **مدني سپرلے** واورو: د **بابُ المَدينه** (کراچئ) يو مُبَلِّغ چې هغه به هره ورځ پابندئ سره **چوک درس** ورکولو. يو کس چې هغه به د سُنّتو ډک تحرِيك "دعوتِ اِسلامي" نه خوښولو هغه صِرف د تَعَصُّب [يعني بُغض] په وجه په تانه کښې د مُبَلِّغ خِلاف د دروغو ريپورټ درج کړو چې دا په علاقه کښې فساد خوروي پوليس راغلو او هغه **عاشِقِ رسول** ئې تانے ته بوتللو. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي "مُبَلِّغ" په هر ځائے کښې مُبَلِّغ وي چنانچه د يو مُجرِم سره ئې ملاقات وشو او په هغه ئې"اِنفِرادي کوشش" وکړو او هغه ئې د تبليغِ قرآن و سُنّت د عالمګير غير سياسي تَحريك دعوتِ

---

[1] نرم زړه

اسلامي په هفته واره **اجتِماع** کښې شريك کيدو ته تيار کړو، هغه اُووئيل چې زه د قيد نه خلاص شم نو ضرور به حاضريږم، آيا تاسو سره هلته زما ملاقات کيدے شي؟ **مُبلّغ** اُووئيل: اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی. بيا ئې ورته خپله حلقه نمبر وغيره اوښودل چې زه په اجتماع کښې په هغه ځائے کښې يم. پوليس چې د هغه ښکُلې اَخلاق وليدل نو په حقيقت پوهه شو، د هغه "**عاشِقِ رسول**" نه ئې معافي اوغوښتله او په عِزّت کښې ئې رخصَت کړو. يو څو مياشتې پس چې هغه **مُجرِم** کله د جيل نه راخلاص شو نو د تبليغِ قرآن و سُنّت عالمګير غير سياسي تَحريك دعوتِ اسلامي عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه بابُ المَدينه (کراچۍ) کښې کيدونکې هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع ته راغلو، بيان ئې واوريدو، په ذِکر و دُعا کښې د هغه زړه نرم شو او په ژړا ژړا ئې د خپلو ګناهونو نه توبه وکړه. د دُعا نه پس د هغه مُبلّغ سره د ملاقات د پاره چا چې په تانړه کښې هغه ته د نيکۍ دعوت ورکړے وو چې کله د هغوئي ښودلې شوي حلقے ته ور ورسيدو نو يو اسلامي ورور ورته اُووئيل: چې اوس په دې **تيرې شوې سِه شنبه** [يعني د نهي په ورځ] **هغه مُبلّغ وفات شوے دے.** چې دا ئې واوريدل نو په چغو چغو په ژړا شو چې په ژوند کښې اول ځل چا د "**نيکۍ دعوت**" راکړو او د هغه په وجه ما توبه وکړه. هائے افسوس! زما د خپل هغه **مُحسِن** [يعني اِحسان کوونکي] سره بيا ملاقات هم ونشو. يو عاشِقِ رسول په هغه اِنفرادي کوشش کولو کښې هغه ته داسې ذهن ورکړو چې اوس تاسو د هغوئي سره ملاقات خو نه شئ کولے خو هغوئي ته فائِده رَسَولے شئ او د هغې يوه طريقه دا هم ده چې د هغوئي د اِيصالِ ثواب د پاره نن سحر سمدستي د سُنّتو د تربيّت د يوے مياشتې **مَدَني قافِله** کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر اوکړئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه سمدستي د يوے مياشتې د پاره عاشِقانِ رسُول سره په مَدَني قافِله کښې په سفر روان شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ نن هغه "مُجرِم" د **دعوتِ اِسلامي** مُبلّغ دے او مخکښې ئې دا حالت وو چې **د شرابو اډے** به ئې چلولې.

آپ تھانے میں بھی، جیل خانے میں بھی ہر جگہ پر کہیں، قافلے میں چلو

تاسو تانړه کښې هم، په جيل خانه کښې هُم

هر ځائے هُم دا وائے، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مُبَلِّغ په هر ځائے کښې مُبَلِّغ وي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! واقعِي مُبَلِّغ په هر ځائے کښې مُبَلِّغ وي، هر وخت او په هر ځائے کښې

خپل لِباس او خپل انداز د سُنّتو مطابِق ساتي، که په علاقه کښې وي او که په بازار کښې وي، که په جنازه کښې وي او که د واده په جَنج کښې وي، که په دواخانه کښې وي او که په هسپتال کښې وي، که په باغ کښې وي او یا که د چا د خخولو د پاره مُقبرے [اَدِیرے] ته راغلے وي، چې چرې ورته موقع په لاس ورشي سمدستي **د نیکئ د دعوت** مَدَني ګُلونه وَرول شروع کړي او د خپل ځان د پاره د ثواب ډیره ذخیره جوړه کړي. د ذِکر کړي شوي **مَدَني سپرلي** نه دا هم معلومه شوه چې د مرحُوم عاشِقِ رسُول مُبَلِّغ ځومره ښکُلي جذبه وه چې ظُلماً تانړے ته راوستے شو نو هلته هُم د نیکئ د دعوت په کار کښې لګیا شو او د شرابو د اډے د چلوونکي د توبه وِیستلو او د هغه د دعوتِ اِسلامي د مُبَلِّغ جوړیدلو سبب جوړ شو او پخپله د همیشه په خوب اوده شو.

**د الله پاک دِ په مرحوم عاشِقِ رسُول مُبَلِّغ باندې رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم

تِری سنّتوں پہ چل کر مِری رُوح جب نکل کر
چلے تم گلے لگانا مَدَنی مدینے والے (وسائلِ بخشش ص287)

چې په سُنّتو ستا روان یم روح مې اُوځي
خپلي غاړې ته مې تینګ کړئ مدني خوږه سرداره

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د الله مَحبوب جوړوونکي خلق

د بے **قراره** زړونو قرار، د رسولانو د سالار صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمانِ عالیشان دے: ”آیا زه تاسو ته د داسې خلقو په باره کښې خبر درنکړم چې هغوئي نه د نَبیانو (علیہمُ الصلوۃُ السَّلام) نه دي او نه د شَهیدانو نه، خو د قیامَت په ورځ چې اَنبیاء (علیہمُ الصلوۃُ السَّلام) او شُهَداء د هغوئي مقام [یعني مرتبه] اُووِیني نو رَشك به کوي، هغوئي به د نُور په مِنبرونو اوچت وي، دا هغه خلق دي خوك چې د الله تعالٰی بندګان د الله تعالٰی محبوب (یعني ګران) جوړَوي او هغوئي په زمکه ګرځي او (خلقو ته) نصیحت کوي.“ عرض اوکړے شو: هغوئي خلق څنګه د الله تعالٰی مَحبُوب (یعني ګران) جوړوي؟ اوئې فرمائیل: هغوئي خلقو ته د الله تعالٰی د محبوبو (یعني خوښو) خبرو حُکم ورکوي او د الله تعالٰی د ناخوښه خبرو نه ئې منع کوي، پس چې کله خلق د هغوئي اِطاعت کوي (یعني د هغوئي خبره مني) نو الله تعالٰی به هغوئي خپل مَحبوب جوړ کړي.

(شُعَبُ الایمان ج1 ص367 حدیث409)

## مُبَلِّغ محبوب نه بلکه ډېر محبوب وي

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** تاسو وليده! د **نيکۍ د دعوت** ورکونکو شان څومره اوچت وي چې د قيامت په ورځ به انبياءِ کرام عَلَيهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام او شُهَدائے عُظّام هُم چې په هغوئي د **الله** تَعَالٰی اِنعام او اِکرام اُووِيني نو رشك به کوي.د دې عَظَمَت او شان سبب به څه وي؟هُم دا چې هغوئي به **د نيکۍ د دعوت** او د بدو نه د منع کولو په ذريعه خلق باعمله جوړوي او دغسې به هغوئي د **الله** تَعَالٰی محبوب جوړوي. چې نور خلق د **الله** تَعَالٰی محبوب جوړوي نو ځپله به ولې محبوب نه وي!

اللہ کا محبوب بنے جو تمہیں چاہے　　اُس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تم جسے چاہو (ذوقِ نعت)

د الله هغه محبوب شي چې کړي ستا سره محبّت
د هغه به څنګ قِسمت وي ته چې کړي چا سره محبّت

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## سَيِّدُنا حسن بصري او يو مالدار

د "**نيکۍ د دعوت**" د ثواب په ګټلو کښې به زمونږه اولياءِ کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی مخکښې مخکښې وو او په دې معامَله کښې به د چا په رُعب کښې هم نه راتلل چنانچه حضرت سَيِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه د خپلو شاګردانو سره چرې تشريف وړلو چې يو رئيس (يعني مالدار) ئې وليدلو، هغه ځان ډير زيات ساز کړے وو او د خپلو غلامانو په ګنړه کښې په اس سور روان وو. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه د هغه نه تپوس وکړو: د کوم ځائے په اراده روان ئې؟ عرض ئې وکړو: د **بادشاه** دربار ته روان يم. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه پرې "اِنفِرادي کوشش" وکړو او هغه ته ئې اُوفرمائيل: اے وروره تاسو ښه ښکُلے لِباس اغوستے دے، د پاسه مو پرې خوشبو هم لګولې ده او په هره طريقه مو په ښکاره ځان ساز کړے دے، يقيناً دا صرف د دې د پاره چې په **شاهي دربار** کښې تاسو شرمِنده نه شئ حالانکه دا بادشاه د دې ختميدونکي کمزورې دُنيا بادشاه دے او د ده درباريان ستاسو په شان بے اِختياره انسانان دي. اوس لږ غور اوکړئ چې صبا د قيامت په ورځ به چې کله د **الله** تعالٰی په دربارِ شاهي کښې حاضِريدل وي، هلته به انبياءِ کرام عَلَيهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام او اولياءِ عُظّام هُم وي، د هغه ځائے د پاره تاسو د خپل "باطِن" د جوړولو او ښکُلي کولو څه انتِظام کړے دے؟ آيا هلته به تاسو د ګناهونو د ګندګۍ او د بدکارو د بدبوئ سره حاضريږئ؟ هغه مالدار سړي په ډيره زياته تَوَجُّه سره د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه ارشادات اوريدل، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه ترينه

تپوس وکړو: آیا تاسو کله په خپل آس باندې د هغه د طاقت نه زیات بوج اچولے دے؟ عرض ئې وکړو: نه جي. اوئې فرمائیل: تاسو په خپل اس خو زره سوزوئ خو په خپل کمزوري بدن رحم نه کوئ چې مسلسل پرې د ګناهونو بوج باروئ، لږ فِکر خو اوکړئ! که ژوند مو دغسې د ګناهونو نه ډك تیر کړو نو د مرګ نه پس به مو څه انجام کیږي! هغه مالدار سړے د هغوئي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ د "اِنفِرادي کوشش" او د نیکئ د دعوت نه بے حده مُتَاَثِّره شو، د اس نه راکوز شو او د هغوئي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ مُرید شو او الله والا جوړ شو. (سچّی حکایات ج5 ص208 بِتَصَرُّف)

**د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم

نفس یہ کیا ظلم ہے جب دیکھو تازہ جُرم ہے
ناتُواں کے سر پہ اِتنا بوجھ بھاری واہ واہ! (حدائقِ بخشش شریف)

**شرحِ کلامِ رضا:** **زما سردار** اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ په دې شعر کښې فرمائي: اے بدکاره نفسه! ستا ظلم او سِتم په ما نور ډیر زیات شو! ته ورځ په ورځ زما په ګناهونو کښې اِضافه کوے زه ډیر کمزورے بنده یم او ته زما په سر د ګناهونو دروند بوج باروے. (معلومه شوه چې نفسِ اَمّاره یعني د ګناهونو د پاره راپارووونکے نفس زمونږه دُښمن دے، مونږ ته هر وخت د هغه د دهوکے نه ځان ساتل پکار دي)

آہ! ہر لمحہ گنہ کی کثرت و بھرمار ہے
غَلَبۂِ شیطان ہے اور نَفسِ بد اَطوار ہے (وسائلِ بخشش ص۱۲۸)

هر لحظه مې په کثرت د ګناهونو کښې تیریږي
غلبه ده د شیطان، او ظالم نفس مې نه پوهیږي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په لمانځه کښې ښنګه جامے پکار دي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو ولیده! اولیاءُ الله رحمهم الله تعالٰی به د خانانو او مالدارانو د خوشامَدو او په دروغو د هغوئي د صِفَتونو کولو په ځائے هغوئي ته د اصلاح مَدَني ګُلونه وړاندې کول او هغوئي ته به ئې په واضحه الفاظو کښې نصیحت کولو. د دولت مندو خوشامَدې دِ هغه څوك کوي څوك چې د

هغوئي نه د دُنيا د ذليله دولت حاصلولو لالچ لري، اَهلُ الله د قَناعَت په مَدَني دولت مالداره وي، د هغوئي ستركې د دولت مندو د فاني مال طرف ته نه وي بلكه د رَحمَتِ ذُوالجَلال طرف ته وي! **ياد ساتئ!** د مالدارانو د دولت په وجه د هغوئي د تعظيم كولو سخته منع راغلي ده چنانچه منقول دي: څوك چې د يو مالدار د هغه د مالدارئ په وجه تواضُع [يعني تعظيم] اوكړي د هغه په درې حِصّو كښې دوه حِصّې دِين لاړو. (كَشفُ الخِفاء ج2 ص215 رقم 2442) په بيان كړے شوي **حِكايت** كښې د آخِرت فِكر وركړے شوے دے چې د حكمرانانو، وزيرانو او اَفسرانو خوا ته ورتلو د پاره خو ښكُلې جامے اغوندي او ښه ډَوَل او سِنګار اختياروي خو د الله تعالیٰ په مُقَدَّسه بارګاه كښې د وړاندې د پاره د هيڅ قِسم اهتمام كولو ذِهن نشته. مونږ چې د دُنيا د يو "غټ سړي" خوا ته ځو يا داسې ځائے ته ځو چې هلته به مو ډير خلق وينې نو د سر وِيښته، جامے، عِمامه، څادر وغيره ښه په احتياط سره سم كړو خو "لمونځ" چې د الله تعالیٰ د عَظَمت لرونكي دربار د حاضرئ موقع ده هغه وخت د ځان ښكُلي كولو هيڅ اهتِمام نه كوو! كم نه كم دومره خو پكار ده چې د يو غټ سړي خوا ته يا [د واده وغيره] د ډوډئ دعوت ته تلَلو په وخت كښې چې انسان كومې جامے اغوندي هم هغه دِ جُمات ته د حاضريدو په وخت كښې اغوندي.

جُمات ته د حاضِرئ د پاره د زِينت [يعني ښكُلا] اختيارولو مُتعَلِّق په قُرآنِ كريم، اَتَمه سِيپاره سُورَةُ الاَعراف آيت 31 كښې ارشاد كيږي:

خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ [مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالايمان: خپل زينت واخلئ چې كله جُمات ته ځئ.

## د لمانځه د پاره عِطر لګول مُستَحب دي

**صدرُ الافاضِل** حضرتِ علّامه مولانا **سَيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي** رحمۃُ اللہ تعالیٰ علیه په تفسِير "خَزائِنُ العِرفان" كښې د دې آيت لاندې ليكي: يعني د زينت [ښكُلي] جامے او يو قَول دا دے چې كُمنز كول، خوشبو لګول په زِينت كښې شامِل دي او سُنّت دا دي چې سړے په غوره انداز (يعني ښه شكل او ښه حالت) كښې د لمانځه د پاره حاضِر شي ځكه چې په لمانځه كښې د خپل رَبّ نه مُناجات [يعني دُعا غوښتل] دي نو د دې د پاره زِينَت كول او **عِطر لګول مُستَحَب** دي. د **مُسلِم شريف** په حديث كښې دي چې په زمانهٔ جاهِلِيَّت كښې به د ورځې سړو او د شپې ښځو په بربنډه طواف كولو. په دې آيت كښې د ستر پټولو او د جامو اغوستلو حكم وركړے شو او په دې كښې دليل دے چې سِترِ عورت په لمانځه، طواف او هر حال كښې واجِب دے. (خزائِنُ العِرفان ص248)

## په لـمانځه کښې د لِباس د احکامو 14 مَدَني ګلونه

## د لـمانځه په دوران کښې جامے اغوستل

(1) د لـمانځه کولو په دوران کښې کُرته [قميص] يا پاجامه [پرتوګ] اغوستلو يا لنګ تړلو سره **لمُونځ ماتيږي**. (غُنْیَہ ص452 وغیرھا)

(2) د لـمانځه په دوران کښې د سَتر ښکاره کيدو او هم په دې حالت کښې يو رُکن ادا کولو يا درې ځله د سُبحٰنَ الله وئيلو په مقدار وقفه تيريدلو سره لـمونځ هم **فاسِديږي** (يعني ماتيږي). (دُرِّمُختار ج2ص467)

## په اُوګو څادر زوړندوَل

(3) په لـمانځه کښې سَدَل يعني جامه زوړندوَل **مکروهِ تحريمي** دي. مَثَلًا په سر يا اُوګه باندې څادر يا رومال وغيره داسې اچول چې دواړه سرونه ئې زوړند وي. خو که يوه ډډه ئې [په يوه اُوګه اچولو نه پس د څادر په هغه بله ډډه د پاسه] په بله اُوګه ورواچوله او بله ډډه زوړنده وي نو باك نشته.

(4) نن صبا خلق په يوه اُوګه داسې رومال اچوي چې د هغې يو سر په خيټه د پاسه زوړند وي او بل سر ئې په شا زوړند وي. داسې لمُونځ کول **مکروهِ تحريمي** دي. (بهارِ شريعت ج1ص624)

(5) په دواړو لِستونړو کښې که يو لِستونړے هم د نيم مړوند[1] نه زيات پورته تړول شوے وي نو لمُونځ به **مکروهِ تحريمي** وي. (اَيضاً. دُرِّمُختار ج2ص490)

(6) د نورو جامو لرلو باوجود صِرف پاجامه [يا پرتوګ] يا لنګ کښې لـمونځ کول **مکروهِ تحريمي** دي. (عالمگیری ج1ص106)

(7) (په لـمانځه کښې) د کُرتے [قميص] وغيره تنړئ [بټني] خلاصې کيدل چې سينه پکښې ښکاره وي **مکروهِ تحريمي** دي خو که لاندې ترينه بله څه جَامه [کپړه وغيره] وي چې سينه ترينه نه ښکاري نو مکروهِ تنزيهي دي. (بهارِشريعت ج1ص630)

(8) داسې جامے اغوستل چې په هغې د ساه لرونکي ځيزونو [مَثَلاً ځناور، انسان وغيره] تصويرونه وي په هغې کښې لـمونځ کول مکروهِ تَحريمي دي د لـمانځه نه علاوه هم داسې جامے اغوستل جائِز نه

[1] د لاس د کِيټيځ نه د څنګلي د سره پورې شرعي مړوند دے.

دي.(ايضاً ص627)

## د مکروهِ تَحرِيمي تعريف

دا د واجِب په مقابَله کښې دے، د دې په کولو لمُونځ ناقِصه کيږي او کوونکے ګنهګاريږي اګر چې د دې ګُناه د حرام نه کمه ده او يو څو ځله دا کول کبيره (ګُناه) ده. (بهارِ شريعت ج1 ص283) کوم لمُونځ چې مکروهِ تَحرِيمي شي هغه واجِبُ الاِعاده وي يعني داسې لمُونځ د سره بيا کول واجِب وي. د مکروهِ تَحرِيمي داسې صورتونه هم شته چې په هغې کښې د سجدهٔ سهو کولو سره لمُونځ صحيح شي. د دې د تفصيلي معلوماتو د پاره د د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے مَکتَبَةُالمَدِينه کتاب "د لـمانځه اَحکام" ولولئ.

(9) د نورو جامو لرلو باوجود د کار په جامو کښې لمُونځ کول **مکروهِ تنزيهي** دي.
(شرحُ الوِقاية ج1 ص198)

(10) په څټ [يعني په اَستر، اُلټه] جامے اغوستلو يا په سر کولو سره لمُونځ کول **مکروهِ تنزيهي** دي. (فتاوٰی رَضَوِيّه ج7 ص358 نه 360 پورې)

(11) د ناراستئ په وجه سر تور سر لمُونځ کول **مکروهِ تنزيهي** دي. (دُرِّ مُختار ج2 ص491)
که په لـمانځه کښې خولئ [ټوپۍ] يا عمامه شريف اوغورزيږي نو راپورته کول ئې غوره دي هله چې د عَمَلِ کثير حاجت پيښ نه شي ګني فاسِد به شي. او که بيا بيا راپورته کول غواړي نو پريږدئ ئې او که د نه راپورته کولو نه خُشُوع و خُضُوع مقصود وي نو نه راپورته کول غوره دي. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج2 ص491)

(12) که څوک په سرتوره لمُونځ کوي يا ئې د سر نه ټوپۍ پريوتې وي نو بل کس دِ ورته ټوپۍ نه په سر کوي.

## د عملِ کثير تعريف

**عَمَلِ کثير** لمُونځ فاسِد کوي [يعني ماتوي] هله چې نه د لـمانځه د اعمالو نه وي او نه د لـمانځه د اِصلاح د پاره شوے وي. [ په لـمانځه کښې] د څه کار کولو والا چې د لرې نه داسې ښکاري چې دا په لـمانځه کښې نه دے بلکه که غالِب ګُمان هم وي چې په لـمانځه کښې نه دے نو بيا هم عَمَلِ کَثير دے. او که د لرې نه کتونکے په شك او شبه کښې دے چې دا په لـمانځه کښې دے او که نه نو عَمَلِ قليل دے او لمُونځ به ئې نه ماتيږي. (دُرِّمُختار ج2 ص464)

## په نيم لِستونړي کښې لمونځ کول څنګه دي

(13) د نيم لِستونړي کُرته يا قميص کښې لـمونځ کول **مکروهِ تنزيهي** دي هله چې هغه سره نورې جامے وي. حضرت **صَدرُ الشَّرِيعه** مُفتي محمد امجد علي اعظمي رحمۃ اللہ تعالیٰ علیہ فرمائي: "د چا سره چې جامے موجودې وي او صِرف د نيم لِستونړي [قميص] يا بنين واغوندي او لمونځ پکښې کوي نو کراهتِ تنزيهي دے او که جامے ورسره نه وي نو کراهت هم نشته." (فتاویٰ امجديّه ج1 ص193)

(14) مُفتئ اعظم پاکستان حضرت قِبله مُفتي وقارُ الدِّين قادِري رَضَوي رحمۃ اللہ تعالیٰ علیہ فرمائي: د نيم لِستونړي والا کُرته، قميص يا شرټ د کار د جامو په حُکم کښې شامِل دي (وَلے چې د کار په جامو کښې انسان دَ مُعَزّزو [عِزّت مندو] خلقو مخې ته د ورتلَلو نه ډډه کوي) نو چې څوك د نيم لِستونړي والا کُرته [قميص، شرټ]کښې د نورو خلقو مخې ته ورتلل نه خوښوي د هغوئي لمونځ **مکروهِ تنزِيهي** دے او کوم خلق چې په داسې جامو کښې د ټولو مخې ته په ورتلَلو کښې هيڅ عيب نه ګنړي، د هغوئي لمونځ مکروه نه دے. (وَقارُالفتاویٰ ج2 ص264)

## د مکروهِ تنزِيهي تعريف

د کوم کارکول چې شَرع نه خوښوي، خو د دومره حده پورې (ناخوښه) نه چې په هغې د عذاب وَعِيد [يعني خبر] ورکړے شوے وي او دا د سُنّتِ غير مؤکّده په مقابله کښې دے. (بهارِ شريعت جلد اوّل ص284) کوم لمونځ چې مکروهِ تنزِيهي شي د هغې دوباره کول غوره دي او که اوئې نه کړي نو ګنهګار نه شو.

مرے دل سے دُنیا کی چاہت مٹا کر کر اُلفت میں اپنی فنا یاالٰہی (وسائلِ بخشش ص78)

لرې زما د زړه نه د دنيا محبّت کړه      ستا په مينه کښې مې کړه فَنا يا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!      صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مَدَني قافلے زه بالکل بدل کړم!

په خپل زړه کښې د **نيکئ د دعوت** د بے شميره ثوابونو حِرص راپيدا کولو د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره هر وخت تړلي اوسئ او پابندئ سره هره مياشت کم نه کم درې ورځې عاشِقانِ رسول سره په **مَدَني قافله** کښې د سُنّتو ډك سفر کوئ. راځئ چې ستاسو د شوق زياتولو د پاره تاسو ته يو **مَدَني**

سپرلے واوروُم. چنانچه د علاقه اندهيري (بمبئ. اَلهِند) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: ما د سکول په نهم کِلاس کښې تعليم حاصلولو، د ماډرن او وران کارو هلکانو سره مې دوستي شوه او زه په قِسم قِسم ګناهونو کښې اَخته شوم چې په هغې کښې چرس، بَنګ، شراب او جينکو سره عِشق کول شامِل دي. تر دې چې يوه ورځ مې د کور (د روپو ساتلو) بکس مات کړو، روپۍ مې ترينه اوويستلې او ''ګوا'' ښار ته وتښتيدم. آخِر دا چې يوه ورځ بيا کور ته راغلم. سکول مې پريښودو او د A.C د مُرمّت کار مې شروع کړو. يو څو مياشتې پس د دعوتِ اسلامي يو عاشِقِ رسُول ما ته هفته وارې د سُنّتو ډکې اجتماع دعوت راکړو خو ما خبره اخوا ديخوا کړه. هغه غريب د اِنفِرادي کوشش کولو د پاره ډيرې پيرې زما سره ملاقات وکړو خو زه اجتماع ته د تلَلو د پاره راضي نه شوم. يو ځل هم هغه اسلامي ورور زما په مشر ورور باندې ''اِنفِرادي کوشش'' کولو چې په دې کښې زه هلته ور ورسيدم. مشر ورور مې هغه اسلامي ورور ته د ځان د پاره معذرت وکړو او زما طرف ته ئې مخ را وګرځولو او ما ته ئې اُووئيل: ته په **مَدَني قافِله** کښې لاړ شه. زه انکار کولو والا ووم چې بے اختياره مې د خُلې نه ''ښه'' اُووَتله حالانکه زه د دې نه هم خبر نه ووم چې **مَدَني قافِله** څه ته وائي! اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ **مَدَني قافلے زه بالکل بدل کړم!** زما سترګې وغړيدې، د ګناهونو نه مې نفرت پيدا شو او د نيکو سره مې مَحبّت پيدا شو، ما د ګناهونو د ډک ژوند نه توبه وکړه، د لمُونځونو پابندي مې شروع کړه، مَدَني قافلے د ګناهونو نه ډک ماحول کښې غټ شوے زما په شان سخت نافرمانه د لمُونځونو او سُنّتو پابند جوړ کړو. د دې بيان ورکولو وخت کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه د دُنيائے اَهلِسُنّت په عظيم الشّانه درسګاه جامِعه اشرفيه مبارکپور (يُو پي هِند) کښې د درسِ نِظامي کولو سعادت حاصلووم.

چھوٹ جائیں گناہ، آپ پائیں پناہ　　تھوڑی ہمّت کریں، قافلے میں چلو
تم سُدھر جاؤگے گر اِدھر آؤگے　　سیکھنے سُنّتیں، قافِلے میں چلو
فضلِ مولیٰ سے جب آئیں گے پائیں گے
جذبۂ علمِ دیں قافِلے میں چلو

خلاص به شئ له ګناه، اوموموئ به پناه　　اوکړئ لږ شان هِمّت، قافِلو کښې لاړ شئ
دلته راشئ که تاسو، نيك به شئ تاسو　　زده کړئ ښکلې سُنّتونه، قافلو کښې لاړ شئ
په فضل د مولیٰ، چې راځئ وبه مومئ　　جذبه د عِلمِ دِين، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الجامِعةُ الاشرفيه او د هغې د باني مختصر تعارُف

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو ولیده! د مُبَلِّغ دعوتِ اِسلامي د اِنفِرادي کوشش د اِستِقامَت په بَرَکت آخِر د علاقے وران کارے او په ګناهونو کښې اخته نَشَئ ځلمے په مَدَني ماحول کښې شامِل شو او په جامِعةُ الاَشرفيه (مبارکپور الهِند) کښې ئې داخِله واخسته او طالِبِ عِلمِ دين جوړ شو. د بَرَکت حاصلولو د پاره د ثواب په نِيّت د ماهنامه اشرفيه "حافِظِ مِلّت نمبر" (رَجَبُ المُرَجَّب 1398ھ بمطابق 14 جنورى 1978ء) په مدد د جامِعةُ الاَشرفيه او د هغې د باني د ذِکرِ خير کولو سعادت حاصلووم. د دُنيائے اَهلِسُنَّت د عظيمُ الشَّاني ديني درسګاه الجامِعةُ الاَشرفيه (مُبارکپور) باني اُستاذُ العُلَماء، جَلالَةُ العِلم، حافِظِ مِلَّت حضرت عَلّامه شاه عبدُ العزيز مُحَدِّث مُراد آبادي رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ دے. هغوئي رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ په 29 **شَوالُ المُکَرّم** 1352ھ بمطابق 14جنوري 1934ء کښې د خپل اُستاذِ مُکَرّم صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت علَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ په حُکم د خپلو سبقونو مکمّل کولو نه پس مبارکپور ته تشريف راوړو. هغه وخت دلته يوه مَدرَسه د "مِصباحُ العُلوم" په نوم باندې قائِمه وه. د حضرت حافِظِ مِلّت رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ د ډيرو زياتو کوششونو په نتيجه کښې اللهتعالٰی هم په هغه وړه شان مدرسه کښې بَرَکت عطا کړو او آخِر دا مَدرسه په يوه ډيره لويه جامِعه کښې بدله شوه او د جامِعه اَشرفيه په نوم مشهوره شوه. د دې ادارے نه فارِغُ التَّحصيل کيدونکي (حضرات) د دې د قديم نوم "مِصباحُ العُلوم" په نِسبت **مصباحي** نوميږي.

## سُنّتو سره مَحَبّت

حافِظِ مِلّت رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ به په خپل هر عمل کښې د سُنّتو ډير زيات خيال ساتلو. يو ځل د حضرت رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ ښئ ښپه زخمي شوه، يو صاحِب دوائي راوړه او وئې وئيل: حضرت! دوائي حاضِره ده. د جَمي (يعني د ېخنئ) زمانه وه حضرت رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ موزے په ښپو کړي وې. هغوئي رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ مخکښې د چپې ښپې موزه اوويستله، هغه صاحِب اُووئيل: حضرت ستاسو خو ښئ ښپه زخمي ده! هغوئي رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ اُوفرمائيل: د چپې ښپې نه مخکښې ويستل سُنَّت دي.

## د حافِظِ مِلَّت کَرامت

د الجامِعةُ الاَشرفيه باني حافِظِ مِلّت حضرت علّامه شاه عبدُالعزيز مُحَدِّث مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ډېر لوئ بزرګ وو. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د مبارك ژوند حالات ليكونكو د هغوئي ډېر كرامات بيان كړي دي. په هغي كښې يو دا هم دے چې جامِع مسجد مبارك شاه هم مخكښې ډېر مختصر وو او ضعيفه شوے هم وو، د آبادئ زياتيدو سره د جُمات غټول هم ضروري وو، بهرحال زوړ جُمات شهيد كړے شو او نوي بنيادونه كيښودے شو او د جُمات غټولو كار شروع شو. د مُبارك پور مسلمانانو ډېر د زړه په شوق او مينه د دې په جوړولو كښې حِصّه واغسته، حضرت **حافِظِ مِلّت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې كار هم رهنما او مشر وو، حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د جامِع مسجد د پاره په ډېره توجُّه او كوشش چنده راټوله كړه، د مبارك پور په خلقو كښې ډېر جوش او جذبه وه، د غريبئ باوجود مسلمانانو د خپل ديني غيرت پوره پوره ثبوت وركړو، سړو د خپلې ګټې په ذريعه او زنانۇ د خپلو [سرو او سپينو زرو د] كالو وغيره په ذريعه اِمداد وكړو. د چت اچولو نه پس حاجي محمّد عُمر د ډيرې وارخطائي په حالت كښې په منډه منډه د حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه خوا ته راغلو او وئې وئيل: حافِظ صاحب! د جامع مسجِد چت په ښكته راروان دے [يعني د غورزيدو خطره ئې ده] اوس به څه كيږي! حاجي [محمّد عُمر] صاحِب د دې خبرې كولو سره په ژړا شو. حضرت حافِظِ مِلّت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فوراً پاڅيدلو، اودس ئې وكړو او حاجي صاحِب سره د كوره اُووَتلو، او خپل ګاونډي خان محمّد صاحِب ئې ځان سره روان كړو، جامع مسجد ته چې ور ورسيدلو نو بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ئې ولوستو او يو څو لرګي ئې ورته ودرول. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ چت داسې برابر او سم شو چې نن هم ورته اُوګورئ نو پرې پوهه به هم نه شئ چې د چت كومه حِصّه راښكته شوي وه!

## د حافظِ مِلّت بعضې عاداتِ مبارَكه

د اودس كولو د پاره به مخ په قبله كښيناستلو. د حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه پاجامه كله هم دومره اوګرِده چا نه ده ليدلې چې ګيټئ [پړكې] ئې پرې پټې شوې وي. رښتيا خبره خودا ده چې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه انداز او لِباس به چا وليدو نو پوهه به شو چې شرعي انداز داسې وي. په سفر او حَضَر (يعني په سفر او وطن دواړو ځائيونو) كښې د حضُور حافِظِ مِلّت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په ښكلې ښكلې عادتونو كښې دا هم شامل وو چې د ډوډئ نه مخكښې به ئې دواړه لاسونه د ګيټو پورې وينځل او ډوډئ به ئې په خُله كښې ښه ميده كوله، خوراك به ئې كه د طبيعَت مطابق وو يا د طبيعت خِلاف، خو عيب به ئې پكښې نه بيانولو، د ډوډئ نه فوراً پس به ئې اوبه نه څښلې بلكه څه ساعت پس به ئې څښلې. هم دغه رنګ چې اوبه به

ئي کله هم څښلې نو د شُومَلو په انداز [یعني په ورو ورو ګُوټُونو] او په درېٖ ساګانو کښې به ئې څښلې.

## د رانجه لګولو په بَرَکت ئې په بوډاوالي کښې هم نظر تیز وو

د حضُور حافِظِ مِلّت رحمۃُ اللّٰہ تعالٰی علیہ عُمر مبارك د اویاؤ کالو نه اَووښتے وو، د هغه وخت واقعه ده چې په ریل ګاډي کښې په سفر وو، په کوم برته چې تشریف فرما وو، اِتّفاقاً یو ډاکټر صاحِب هم په هغه برته ناست وو، ډاکټر صاحِب ورسره خبرې شروع کړې نو د هغوئي رحمۃُ اللّٰہ تعالٰی علیہ د ډېر عِلم نه ډېر متاثِره شو، او ساعت په ساعت به ئې د هغوئي رحمۃُ اللّٰہ تعالٰی علیہ طرف ته په حیرانئ سره کتل، د خبرو په دوران کښې ډاکټر صاحِب خپله حیراني ښکاره کړه او وئې وئیل: مولانا صاحِب! زه د سترګو ډاکټر یم، زه وِینم چې په دې عُمر کښې هم ستاسو په نظر کښې هیڅ فرق نه دے راغلے، بلکه ستاسو سترګې د ماشومانو په شان ځلیږي، دا را ته اووائې چې آخِر د دې د پاره څه استعمالوئ؟ هغوئي اُوفرمائیل: ډاکټر صاحِب! زه څه خاص دوائي وغیره خو نه استعمالووم، خو یو عمل دے چې په هغې کښې ناغه نه راولم، [هغه دا چې] زه د شپې اُوده کیدو وخت کښې د سُنَّت مُطابق رانجه استعمالووم او زما یقین دے چې د سترګو د پاره په دُنیا کښې د دې عمل نه غوره بله دوائي نه شي کیدے. **د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صلّی اللّٰہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلّم**

مسلکِ اعلیٰ حضرت کا اِک گُلستاں　　علمِ صدرُ الشّریعہ کا بحرِ رَواں
علم سے جس کے سَیراب سارا جہاں　　لہلہانے لگا دین کا بُوستاں

جس طرف دیکھئے اس قدم کے نشاں
حافظِ دین و ملت پہ لاکھوں سلام

د مَسلكِ اعلیٰ حضرت یو ګلِستان　　د عِلمِ صَدرُ الشَّرِیعه بَحرِ[1] روان
چې په عِلم ئې اوبه شو ټول جهان　　شین زرغون شولو د دین ښکُلے بوستان
هر طرف ئې د قدم چې دے نِښان　　په حافِظِ دِین مِلّت بے شماره سلام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1] دریاب

## د ”اِثمِد“ د څلورو حروفو په نِسبت د رانجو لګولو 4 مَدَني ګلونه

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د حضُور حافِظِ مِلّت د سُنّتو سره **مَحَبّت** مرحبا! او د سُنّتو په **مَحَبَّت** کښې د سُنَّتو مطابِق د رانجو لګولو بَرَکت په دُنيا کښې هم د نظر د حِفاظت په صورت کښې ښکاره شو، که څه **مجبوري** نه وي نو تاسو هم هره ورځ د سُنَّتو مطابق د رانجو لګولو نِيَّت اوکړئ. ستاسو د آسانئ د پاره د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** د چاپ شوې رسالے ”**101 مَدَنی پهول**“ [اُردو] صفحه 27 او 28 نه د رانجو په باره کښې څلور مَدَني ګلونه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم، قبول ئې کړئ او د خپل زړه په مَدَني ګُلدسته کښې ئې ولګوئ: (1) د ”**سُنَنِ اِبنِ ماجه**“په رِوايت کښې دي: ”په ټولو رانجو کښې غوره رانجه ”**اِثمِد**“ دي ځکه چې دا نظر روښانه کوي او بانړه رازرغونَوي.“ (ابنِ ماجه ج4 ص115 حديث3497) (2) د کاڼړي رانجه اِستعمالولو کښې باك نشته او تور رانجه يا کاجَل د زِينَت په اِراده (يعني د ښکلا په نِيَّت) د نارينه د پاره لګول مکروه دي او که د زِينَت مقصد ئې نه وي نو کراهَت نشته. (عالمگيری ج5 ص359) (3) رانجه د اوده کيدو په وخت کښې لګول سُنّت دي. (مِراٰةُ المَناجيح ج6 ص180) (4) د رانجو استعمالولو د درې منقولو طريقو خُلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم: (1) کله په دواړو سترګو کښې درې درې سلايان (2) کله په ښئ سترګه کښې درې او په ګڅه سترګه کښې دوه، (3) او کله په دواړو سترګو کښې دوه دوه او بيا په آخِره کښې يو سلائي په رانجو کښې اووهئ او وار په وار ئې په دواړه سترګو کښې پورې کړئ. (اُنظر: شُعَبُ الاِيمان ج5 ص218،219) داسې کولو سره به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی په درې واړو طريقو عمل کيږي.

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د تَکرِيم [يعني عِزّت] چې به څومره هم کارونه وو، هغه ټول به زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم د ښئ طرف نه شروع کول،لِهذا اوّل په ښئ سترګه کښې رانجه لګوئ بيا ئې په ګڅه سترګه کښې لګوئ. په قِسم قِسم زرګاؤ سُنَّتونه زده کولو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** دوه کتابونه (1) د 312 صفحو کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه 16 او (2) د 120 صفحو کتاب ”**سُنَّتیں اور آداب**“ هديه کړئ او ولولئ. د سنّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د **دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد